مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰۱/۱۲

# لمره نن تم سه

پرون د جنوري پر دوولسمه، په کابل کي د خارجه وزارت مخي ته، بیا هم، ځانمرګی برید وسو. د شهیدانو شمیر معلوم نه دی خو خبري آژانسونه د درني مرګ ژوبلي رپوټونه ورکوي. د واسکټونو دا بد مرغه لړی، د طالبانو د موقتي او لړزانه امنیت سره سره، روانه ده او د دې ویرژلي اولس د غم سرې شپې او پر جنازو بار سوي ورځي پای ته نه رسیږي. د واسکټ شیطانان د ورځي په رڼا کي ګرځي. ځکه مي لمر ته ووېل چي ګوندي ستا په نه راختلو که سره شپه اوږده سي هم پروا نه لري ځکه چي ورځ بیله هغه هم بنه زبرى نه راوړي.

لمره نن تم سه نن به نه راخېژې
نن د هغو فرشتو سپین هغه واورین لاسونه
چي به یې ته د اسمانو پر لمن ګرځولې
د تور شیطان د جهل اور سوځلي
شپانه مو مړ دی د سهار غر مو شپېلۍ نه لري
رمي اوتري ګرځي
د کیږدۍ ښکلي دربدري ګرځي
سترګو ژړلي دي ژړلي دي سلګۍ نه لري
ابۍ اور نه لري تبۍ نه لري
ماشوم به څرنګه سره شپه تر سهاره یوسي
سهار به څرنګه بې واکه اونازک لاسونه
نیمي مړۍ ته تر بازاره یوسي
لمره هغه ابلیس چي تا به په ښکرونو کي وړي
خپلو بچورو ته په زرو سترګو زرو ژبو
د واسکټونو دوکانونه ښیي
تور مولوي به په شیطانه ژبه
په ریاکاره ناانسانه ژبه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بيا ماشومانو ته بربنډي حوري
بيا په سراب کي جنتونه ښيي
بيا پر خيالي کوثر جامونه ښيي
بيا په شيطانه په مکاره ژبه
له مبارک سره يوازي مجلسونه ښيي
لمره نن مه راخېژه
چي پر معصومو جنازو مي له شيطانه سره
د مولوي د خندا کړس نه اورم
پربېږده چي تور مولوي
په سړو تورو شپو کي
په تور خلوت کي له جهانه گوښه
له خپل ايمان له خپل وجدانه گوښه
له خپل يزدانه گوښه
په توره شپه کي د آدم له زوی انسانه گوښه
له هر مذهب له هر پيمانه گوښه
د خپل زاړه معلم ابليس مخي ته
له خندا شين سي ورته نخيږي
لمره نن مه راخېژه
شپه دي اوږده تپه تياره وي خو سهار دي نه سي.

د ۲۰۲۳ کال د جنوري دیارلسمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ